مجیب الرحمن سافی ۲۰۱۲/۰۲/۰۲

# په رښتیا هم امریکا له افغانستان څخه وځي؟

د امریکا د دفاع وزیر لیون پانیټا اروپا ته د خپل سفر پر مهال ویلي دي، چې په ۲۰۱۳ زیږدي کال کې به له افغانستان څخه خپل ځواکونه وباسي. پانیټا زیاته کړې، چې په ۲۰۱۳ زیږدي کال کې به امریکا او د ناټو نور ځواکونه په افغانستان کې جنګونه پای ته ورسوي او افغان ځواکونو ته به د روزنې او سمبالښت لړۍ چټکه کړي او په دغې مودې کې به د ټول افغانستان امنیتي چارې افغان ځواکونو ته وسپارل شي.

البته له دې وړاندې د فرانسي ولسمشر نیکولای سرکوزي هم ویلي وو، چې د ۲۰۱۳ زیږدي کال تر پایه به له افغانستان څخه خپل سرتیري وباسي. سرکوزي وروسته له هغه دغه څرګندونې وکړې، چې په کاپیسا ولایت کې د یوه افغان سرتیري له لوري څلور تنه فرانسوي سرتیري ووژل او شپاړس تنه نور یې ټپیان شول.

که څه هم فرانسوي سرتیرو ته د افغان سرتیري له خوا مرګ ژوبله اوښتې وه؛ خو د سرکوزي هیر شوي ول، چې د دوی ځواکونه د جګړې لپاره افغانستان ته تللي دي او په جګړه کې بیا حلوا نه وېشل کیږي.

په ۲۰۰۱ زیږدي کال کې هغه مهال، چې امریکا او آیساف ځواکونو پر افغانستان برید وکړ، نو د خپل برید اصلي موخه یې له ترهګرۍ سره مبارزه په ګوته کړې وه، چې د تیرو لسو کلونو په اوږدو کې دا ثابته شوه، چې په افغانستان کې ترهګرۍ شتون نه درلود او که چیرې د القاعده شبکې غړي او دوی پورې تړلي طالبان په افغانستان کې ول هم، نو اصلي سرچینه یې بل هیواد یعنې پاکستان وو او افغانانو تل دا چیغې وهلې، چې ترهګر باید د هغوی په اصلي پټنځایونو کې له منځه دې یوړل شي.

د ۲۰۱۱ زیږدي کال د مارچ په میاشت کې د پاکستان پلازمینې اسلام آباد ته څېرمه په ایبټ آباد پوځي ښارګوټو کې د ځانګړو امریکایي ځواکونو له لوري د اسامه بن لادن وژنې د افغانانو د دغې ادعا پوره ثبوت د امریکا په لاس کې ورکړ.

خو بیا هم په افغانستان کې جګړه روانه ده. د شپې له لوري د افغانانو پر کورونو یرغل کیږي، ډیری بې ګناه کسان وژل کیږي، افغانان بې عزته کیږي او سل داسې نورې پیښې.

که چیرې وکتل شي، نو د روان کال د مرغومي په پنځه لسمه نیټه د امریکا ولسمشر بارک اوباما د دغه هیواد نوې پوځي تګلاره په ډاګه کړه. د امریکا د دغه تګلارې له مخې په زرګونه پوځیان به له دندو ګوښه کړی شي، څو د دفاع وزارت د بودیجې شدیدې کموالي مخنیوی وشي. په راتلونکو لسو کلونو کې به د پنټاګون له بودیجې څخه ۴۵۰ ملیارډه ډالره کمه شي.

د امریکا د نوې پوځې تګلارې پر بنسټ به په ځینو آسیایي هیوادونو او په منځني ختیځ کې د امریکا د پوځیانو په شمیر کې د پام وړ کموالی رامنځ ته شي؛ خو د دغه هیواد سمندري او هوایي ځواکونه به تقویت شي. اوباما د دغې ستراتیژۍ د بیانولو پر مهال وویل، چې په آسیا پسیفیک کې به د دوی پوځي شتون پراخ شي.

له دې وړاندې امریکا له عراق څخه خپل ټول سرتیري ایستلي وو، چې د نورو لاملونو سربیره دا به هم د نوې ستراتیژۍ یوه برخه وي.

په لومړیو کې، چې امریکا پر افغانستان برید وکړ، نو ډیری کارپوهان په دې باور وو، چې امریکا غواړي، څو له افغانستان څخه منځنۍ آسیا، چین او ایران تر کنټرول لاندې راولي او د روسیې په اړه بیا امریکایي ستراتیژستانو ویلي، چې نور نو روسیه نه شي کولای د امریکا لپاره ستونزې راولاړې کړي.

که چیرې واقعا امریکا د منځنۍ آسیا، چین او ایران کنټرول لپاره پر افغانستان برید کړی وي، نو اوس ولې په افغانستان کې خپل پوځي ماموریت راکموي او بالاخره له افغانستان څخه خپل سرتیري باسي؟.

د منځنۍ آسیا په اړه باید وویل شي، چې امریکا په قرقیزستان، ازبکستان اوترکمنستان کې پوځي اډې لري، چې د ازبکستان پوځي اډه یې په ۲۰۰۵ زیږدي کال کې تخلیه کړه. دغه هیواد کولای شي، چې له دغو اډو څخه په منځني ختیځ کې د خپلو ګټو ساتلو په موخه استفاده وکړي.

د ایران په اړه هم باید وویل شي، چې امریکا کولای شي، څو د فارس خلیج په هیوادونو کې له شته اډو، همدا راز په ترکیې له خپل توغندیز سپر، په فارس خلیج کې له خپلو جنګي بېړیو او له آذربایجان څخه د ایران پر وړاندې کار



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

واخلي؛ خو د امریکي ولسمشر اوباما په خپلو وروستیو څرګندونو کې ویل دي، چې پر ایران به پوځي برید و نه کړي او داسې رپوټه هم خپاره شوي، چې امریکا تل اسراییل ته خبرداری ورکوي، څو پر ایران له برید څخه ډډه وکړي.
پاتې د چین مسله شوه. د امریکا د نوې پوځي تګلارې له مخې د آسیا په ځینو هېوادونو او همدا راز په منځني خیتیځ کې به د امریکایي سرتېرو شمېر را کم کړی شي او پر ځای به یې د آسیا پسېفیک په سیمه کې د امریکایي ځواکونو شمېر زیات شي، څو دوی و کولای شي له دې لارې چین کنټرول کړي. هغه څه، چې د چین جدي غبرګون یې له ځانه سره درلوده.
اوس مهال، چې د امریکا د دفاع وزیر ویلي دي، چې په ۲۰۱۳ زېږدي کال کې به دوی په افغانستان کې خپل پوځي فعالیت کم کړي او له افغانستان څخه به د خپل سرتېري هم وباسي، چې د شمېر په اړه یې تر دې مهاله څه نه دي ویلي له یوه لوري دغه کړنه د امریکا د نوې ستراتېژۍ د پلي کېدو یوه برخه ده او له بل لوري که چېرې ځیر شو، نو د امریکا د ولسمشرۍ ټاکنې نږدې شوي دي، چې اوباما له افغانستان څخه د یو شمېر سرتېرو په ایستلو سره غواړي، څو د امریکا د ولس ملاتړ تر لاسه کړي او یو ځل بیا د امریکا د ولسمشر په توګه وټاکل شي.
د پنیټا له څرګندونو څخه یوه بله اخیستنه هم کېدای شي او هغه دا، چې شونې ده افغان حکومت او امریکا به په افغانستان کې د امریکا دایمي پوځي اډو شتون او همدا راز د ستراتیژیکو همکاریو د تړون لاسلیک کولو پر سر سلا شوې وي، چې له دې وړاندې افغان چارواکو ویلي وو، چې په ځینې مسایلو کې د نه همغږۍ له امله سره نه دي سلا، څو دغه تړون لاسلیک کړي. هغه مهال، چې امریکا په افغانستان کې پوځي اډې تر لاسه کړي، نو خپلې اصلي موخې ته به ورسېږي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ